مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۲/۱۲/۲۹

# د چارواکو وینا او عمل

ولسمشر وویل: زه به دا هېواد ګل او ګلزار کړم؛ فساد او جګړه به ختمه کړم، مینه او یوهه به خپره او پراختیا رامنځته کړم، د ارګ او ممبر فاصله به ختمه او عدل به پلي کړم؛ خو هغه له خپل هېواد نه هدیره جوړه کړه. فساد او جګړه لا پسي وغوړېدل، سولي سر وخوړ، نفرت او تشدد خپور شو او جهل کاني وکړې، حکومت نه مسلماني کډه وکړه، عدل محکوم او ظلم حاکم شو.

مشاورینو یې وویل: ولسمشر ته به د هېواد د ابادۍ مشورې ورکړو او خپله به د ملنګي ژوند پیل کړو؛ خو هغوی د بربادۍ مشورې او پلانونه ورکړل او د ولس په وینو یې موټرې واخیستې، د مزدور په خولو یې څو منزله ودانۍ جوړې کړې او په همدې ملنګۍ ملنګۍ کې یې د بهرنیو هېوادونو تابیعتونه او اپارتمانونه پیدا کړل.

لومړي وزیر وویل: زه به هر قوم ته خپل خپل حق ورسوم؛ خو هغه یې شته حقونه هم وخوړل او یوازې د خپل کور او کورنۍ حقونه یې ترلاسه کړل.

د ده مرستیالانو وویل: مونږ به د ابادۍ په هر کار کې له ټولو مخکې یو؛ خو شته ابادۍ یې هم ولوټلې.

وزیر وویل: د پرمختیا، پوهنې، زراعت، اقتصاد او عدالت په هر کار کې به شتون ولرم؛ خو له یوې میاشتې په وزارت کې نه ښکاري او ګاونډ کې په چکرو مصروف دی، چې ولس یې له امله چیغو او سورو ته اړ دی.

قاضي وویل: پرېکړې به مې د اسلام په اصولو برابر وي، د زورور او کمزوري فرق به ونکړم او رشوت به وانخلم، ځکه رشوت اخېستونکی او خورونکی په احادیثو کې دوزخیان بلل شوي؛ خو اوس یې ټولې پرېکړې په پیسو ولاړې دي، غریب نور هم خواروي او د زورورو په جشنونو کې ګډون کوي، رشوت یې پېشه ګرځېدلې او په دې اړه احادیث کمزوري ګڼي.

رئیس وویل: فساد به ختم کړم او د اصلاحاتو بنسټ به کېږدم؛ خو خپله یې له هېواده د فساد ټوله شتمني او پانګونه بهر ته ولېږله او له سره یې د فساد دوهم پړاو پیل کړ، چې ډېر ژر به دوکتورا پکې وکړي.

والي وویل: خپل ولایت، خلک، خاوره او دین به لا پسې محکم، غوړیدلي، رسیدلي او پیاوړي کړم؛ خو شته ولایت، خلک، خاوره او دین تري والوتل، سست، پست، ویجاړ او له منځه لاړل.

قوماندان وویل: زه به امنیت مهار او له هر دښمن سره به وجنګېږم؛ خو هغه هم پاتي راغی، امنیت یې لا پسي خراب کړ او شته سوله یې له منځه یوړه، ورور سره یې جګړه پیل کړه، وربندار یې کونډه او وراره یتیم کړ.

ښاروال وویل: خلک به پرېنږدم، چې خځلي او چټلي د ښار په منځ او لارو کوڅو کې وغورځوی؛ خو پرون یې خپله د مشروباتو تش بوتل له خپل عالي شان موټر څخه په سرک وغورځاوه.

د ترافیکو رئیس وویل: زورواکي ته به د بدن ټول هډوکي ورمات کړم؛ که کوم پولیس سره یې خوله ووهله او د ترافیکو قوانین یې مات کړل؛ خو اوس هره سهار زورواکو ته د سلامۍ له پاره راځي.

مامور وویل: کله چې په وظیفه کې لږ مخکې شم، نو خلکو ته به خدمت کوم، د لسو دقیقو کار په یوه دقیقه کې ختموم؛ خو اوس د یوې دقیقې کار ته لس دقیقې وخت غواړي.

...

فلک خان دا هر څه ولیدل او یوازې دومره یې وویل: یاره ورک یې کړه، سړی څه ووایي؟!! خو یوه خبره مې یاد ساته چې عمل او وینا کې ډېر فرق وي.

لیکنه: سمسور ودان/ دسمبر ۲۰۱۷



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ